د افغانستان اسلامي جمهوریت
دعدليې وزارت

# رسمي جریده

فوق العاده ګڼه

- دلوړ توناژ بار وړونکو نقلیه و سایطو دکنترول مقرره
- دسیراوحرکت دمقررې د اتلسمې مادې د (٦) فقرې او د منضمه جدول د (٧۵) شمیرې الغاء
- دځمکنیو نقلیه وسایطو د ګرځېدو د جواز(جوازسیر) دمقررې د اووه دېرشمې او اته دېرشمې مادو تعدیل

- مقررهٔ کنترول وسایط نقلیه باربری بلند توناژ
- الغای فقرهٔ (٦) مادهٔ هجدهم و شماره (٧۵) جدول منضمهٔ مقررهٔ سیر و حرکت
- تعدیل مواد سی و هفتم و سی وهشتم مقررهٔ جواز سیر وسایط نقلیهٔ زمینی

---

دخپرېدو نېټه:د۱۳۹۳ هـ.ش کال د غبرګولي دمیاشتې(۱۹)
پرله پسې نمبر: (۱۱۳۷)

تاریخ نشر: (۱۹) جوزا سال ۱۳۹۳ هـ . ش
نمبر مسلسل: (۱۱۳۷)

**در این شماره :**


۱- مقرره کنترول وسایط نقلیه باربری بلند توناژ صفحه (۱ــ۱۷).

۲- الغای فقره (٦) ماده هجدهم وشماره (۷۵) جدول منضمه مقرره سیر و حرکت صفحه (۱۸_۱۹).

۳- تعدیل مواد سی و هفتم و سی وهشتم مقرره جواز سیر وسایط نقلیه زمینی صفحه (۲۰-۲۱)



**د امتیـــاز خاوند: د عدلیـــې وزارت**

**مسئول چلوونکی: قانونمل محمدرحیم "دقیق"**

**۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷**

**د دفتر تیلفون: ۰۷۵۲۰۵۲۷۰۹**

**مرستیـــال: نورعلم ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸**

**مهتمـــم: محمد جان ۰۷۸۳۳۰٦۹۸۲**

**وب سایت: www.moj.gov.af**

قیمت این شماره: (۳۰) افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰) جلد

مطبعه : بهیر

آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات و ارتباط عامه، چهارراهی پشتونستان، کابل

**دلوړ توناژ بار وړونکو نقليه وسايطو د کنترول د مقررې د انفاذ په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوريت د وزيرانو شورې**

**مصوبه**

**ګڼه : (۵)**

**نېټه : ۱۳۹۳/۲/۱**

**لومړۍ ماده:**

دلوړ توناژ بار وړونکو نقليه وسايطو دکنترول مقرره چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د وزيرانو شورې د ۱/ ۲/ ۱۳۹۳نېټې په غونډه کې په (۳) فصلونو او (۱۶) مادو کې له (۱ او ۲) ګڼه ضميمو سره يې تصويب شوې ده، منظوروم.

**دوه يمه ماده:**

دغه مصوبه له نوموړې مقررې سره يوځای په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه، نافذېږي.

**حامد کرزی**

**دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس**

**مصوبهٔ شورای وزيران جمهوری اسلامی افغانستان در مورد انفاذ مقررهٔ کنترول وسايط نقليهٔ باربری بلند توناژ**

**شماره : (۵)**

**تاريخ : ۱۳۹۳/۲/۱**

**مادهٔ اول:**

مقررهٔ کنترول وسايط نقليهٔ باربری بلند توناژ راکه به داخل (۳) فصل و (۱۶) ماده با ضمايم شماره (۱و۲) آن در جلسهٔ مؤرخ ۱۳۹۳/۲/۱ شورای وزيران جمهوری اسلامی افغانستان تصويب گرديده است، منظور می دارم.

**مادهٔ دوم:**

اين مصوبه همراه با مقررهٔ مذکور از تاريخ نشر درجريدهٔ رسمی نافذ می گردد.

**حامد کرزی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

## فهرست مندرجات

## مقررۀ کنترول وسایط نقلیۀ باربری بلند توناژ

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی | ۱ |
| مادۀ دوم: | اهداف | ۱ |
| مادۀ سوم: | مرجع تطبیق | ۲ |
| | **فصل دوم** | |
| | **نورم بارگیری وحق الوزن وسایط نقلیۀ باربری بلند توناژ** | |
| مادۀ چهارم: | نورم بارگیری | ۲ |
| مادۀ پنجم : | نصب ترازوها | ۴ |
| مادۀ ششم: | حق الوزن | ۴ |
| مادۀ هفتم: | پارچۀ حق الوزن و تکت جریمه | ۵ |
| مادۀ هشتم: | جریمه | ۵ |
| مادۀ نهم: | ثبت | ۶ |
| مادۀ دهم: | جمع آوری وجوه حاصله | ۶ |
| مادۀ یازدهم: | کنترول و سایط نقلیۀ باربری بلند توناژ در مسیر شاهراه ها | ۷ |

**فصل سوم**

**احکام نهائی**


**مادۀ دوازدهم:** محموله سرغچ شده...............................۹

**مادۀ سیزدهم:** همکاری ادارات.................................۱۰

**مادۀ چهاردهم:** کارت هویت و یونیفورم.........................۱۰

**مادۀ پانزدهم:** وضع لوایح و طرزالعمل ها.......................۱۰

**مادۀ شانزدهم:** انفاذ...........................................۱۱

# د لوړ توناژ بار وړونکو نقليه وسايطو د کنترول مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره د حق العبور د محصول د قانون د څلورمې مادې په (۴) فقره کې د درج شوي حکم په رڼاکې، وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه يمه ماده:**

ددې مقررې موخې عبارت دي له:

۱- د لوړ توناژ بار وړونکو نقليه وسايطو د وزن او بار کنترولول.

۲- دسړکونواونورواړوندو تأسيساتو له ويجاړېدو څخه مخنيوی.

۳- د لوړ توناژ بار وړونکو نقليه وسايطو د کنترول عصري سيستم جوړول.

# مقررهٔ کنترول وسایط نقلیهٔ باربری بلند توناژ

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول:**

این مقرره در روشنی حکم مندرج فقرهٔ (۴) مادهٔ چهارم قانون محصول حق العبور وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادهٔ دوم:**

اهداف این مقرره عبارت اند از :

۱- کنترول وزن و بار وسایط نقلیهٔ باربری بلند توناژ.

۲- جلوگیری از تخریب سرک ها و سایر تأسیسات مربوط.

۳- ایجاد سیستم عصری کنترول وسایط نقلیهٔ باربری بلندتوناژ.

**د تطبيق مرجع**

**درېیمه ماده:**

د فواید عامې وزارت د هېواد په کچه ددې مقررې د حکمونو د تطبیق مرجع ده.

## دوه یم فصل

## د لوړ توناژ بار وړونکو نقلیه وسایطو د بار اخیستنې نورم او حق الوزن

**د بار اخیستنې نورم**

**څلورمه ماده:**

(۱) د لوړ توناژ بار وړونکو نقلیه وسایطو د بار اخیستنې نورم (د موټر وزن له بار سره یې) په لاندې ترتیب محاسبه کېږي:

۱- د دوو حلقو ټایرونو لرونکی مخکینی اکسل، له (۵،۵) ټنو سره مساوي.

۲- د دوو حلقو ټایرونو لرونکی تک څرخ، له (۹) ټنو سره مساوي.

۳- د څلورو حلقو ټایرونو لرونکی واحد (سنگل) اکسل، له (۱۲) ټنو سره مساوي.

**مرجع تطبیق**

**مادهٔ سوم:**

وزارت فواید عامه مرجع تطبیق احکام این مقرره درسطح کشور می باشد.

## فصل دوم

## نورم بارگیری و حق الوزن وسایط نقلیهٔ باربری بلند توناژ

**نورم بار گیری**

**مادهٔ چهارم:**

(۱) نورم بارگیری وسایط نقلیهٔ باربری بلند توناژ (وزن موتربا بارآن) به ترتیب ذیل محاسبه می گردد:

۱- اکسل پیشروی دارای دوحلقه تایر، مساوی به (۵,۵) تن.

۲- تک چرخ دارای دوحلقه تایر، مساوی به (۹) تن.

۳- اکسل واحد (سنگل) دارای چهار حلقه تایر، مساوی به (۱۲) تن.

۴- د شپږو حلقو ټايرونو لرونکي له يو بل سره نږدې جوړه يي اکسل، له (۱۷,۵) ټنو سره مساوي.

۵- د اتو حلقو ټايرونو لرونکي له يو بل سره نږدې جوړه يي اکسل، له (۲۲) ټنو سره مساوي.

٦- د دوولسو حلقو ټايرونو لرونکي له يو بل سره نږدې درې اکسله، له (۳۱) ټنو سره مساوي.

(۲) موظف کارکوونکی، د لوړ توناژ بار وړونکو نقليه وسايطو د بار اخيستنې نورم د اکسلونو او د سړک دپاسه د ټاير د تماس د سطح ترمنځ د واټن له په پام کې نيولو سره، ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو اکسلونو د نورم او ددې مقررې د (۲) گڼې ضميمې مطابق سنجوي.

(۳) دلوړتوناژ نقليه واسطې چلوونکی مکلف دی، داړوندې نقليه واسطې د بار اخيستنې په وخت کې ددې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې درج شوی نورم په پام کې ونيسي.

۴- اکسل جوره ئی با هم نزديک دارای شش حلقه تاير،مساوی به (۱۷,۵) تن.

۵- اکسل جوره ئی با هم نزديک دارای هشت حلقه تاير،مساوی به (۲۲) تن.

٦- سه اکسل با هم نزديک دارای دوازده حلقه تاير، مساوی به (۳۱) تن.

(۲) کارکن مؤظف،نورم بارگيری وسايط نقليهٔ باربری بلند توناژ را بانظرداشت فاصله ميان اکسل ها وسطح تماس تاير بالای سرک مطابق نورم اکسل های مندرج فقرهٔ (۱)اين ماده و ضميمهٔ شماره (۲) اين مقرره سنجش می نمايد.

(۳) رانندهٔ واسطهٔ نقليهٔ بلند توناژ مکلف است، حين بارگيری واسطهٔ نقليهٔ مربوط نورم مندرج فقره های (۱ و۲) اين ماده را رعايت نمايد.

## د تلو (ترازوګانو) نصبول

**پنځمه ماده:**

د فواید عامې وزارت د لوړ توناژ بار وړونکو نقلیه وسایطو د بار د وزن کولو په منظور، په ټاکلو ځایونو کې تلې نصبوي.

## حق الوزن

**شپږمه ماده:**

(۱) د فواید عامې وزارت مکلف دی، ټول لوړ توناژ بار وړونکي نقلیه وسایط په لویو لارو کې په ټاکلو ځایونو کې، وزن کړي.

(۲) د فواید عامې وزارت د داخلي هر یو لوړ توناژ بار وړونکو نقلیه وسایطو له وزن کولو څخه (۱۰۰) افغانۍ او له بهرنیو لوړ توناژ بار وړونکو نقلیه وسایطو څخه د بالمثلې رویې مطابق، حق الوزن اخلي.

(۳) دفواید عامې وزارت مکلف دی، دحق الوزن پارچه چې د نقلیه واسطې نمبر، نورم، دوزن ځای، نېټه، ټاکلي ځای ته دنقلیه واسطې درسېدو ساعت، د اخیستل شوي بار ټول وزن،

## نصب ترازوها

**مادهٔ پنجم:**

وزارت فواید عامه به منظور وزن نمودن بار وسایط نقلیهٔ باربری بلند توناژ در محلات معین ترازو ها را نصب می نماید.

## حق الوزن

**مادهٔ ششم:**

(۱)وزارت فواید عامه مکلف است، تمام وسایط نقلیهٔ باربری بلند توناژ را درمسیر شاهراه در محلات معین، وزن نماید.

(۲)وزارت فواید عامه از وزن نمودن هریک از وسایط نقلیهٔ بار بری بلند توناژ داخلی مبلغ (۱۰۰) افغانی و از وسایط نقلیهٔ باربری بلند توناژ خارجی مطابق رویهٔ بالمثل حق الوزن اخذ می نماید.

(۳) وزارت فواید عامه مکلف است پارچهٔ حق الوزن را که حاوی نمبر، نورم واسطهٔ نقلیه، محل وزن، تاریخ، ساعت رسیدن واسطهٔ نقلیه به محل معین، مجموع وزن

داضافي بارداندازې اوداخيستل شوې پيسې دانداز‌ې لرونکې وي، چلوونکي ته ورکړي.

## د حق الوزن پارچه او د جريمې ټکټ

**اوومه ماده:**

(۱) د فوايد عامې وزارت، پدې مقرره کې درج د حق الوزن د پارچې او د جريمې د ټکټ شکل او محتوي ترتيبوي او د ماليې وزارت له لارې يې طبع کوي.

(۲) د فوايد عامې وزارت مکلف دی، د حق الوزن پارچه او د جريمې ټکټ د کتابچې په ډول په (۱۰۰) پاڼو کې په دوو نقلونو کې ترتيب او له نښه کولو وروسته د اړوند موظف کارکوونکي په جمع کې قيد کړي.

## جريمه

**اتمه ماده:**

(۱) که چېرې لوړ توناژ بار وړونکې نقليه واسطه ددې مقررې د (۲) گڼې ضميمې له درج شوو نورمونو څخه زيات بار شوې وي دنومورې واسطې چلوونکی د اضافي بار پر تخليه کولو سربېره، ددې

بارگيری شده ، اندازۀ بار اضافی و اندازۀ پول اخذ شده را به راننده بدهد.

## پارچۀ حق الوزن و تکت جريمه

**مادۀ هفتم:**

(۱) وزارت فوايد عامه شکل و محتوای پارچۀ حق الوزن و تکت جريمه مندرج اين مقرره را ترتيب و از طريق وزارت ماليه طبع می نمايد.

(۲) وزارت فوايد عامه مکلف است، پارچۀ حق الوزن و تکت جريمه را به شکل کتابچه طی (۱۰۰) ورق در دو نقل ترتيب وبعد از نشانی شد در جمع کارکن مؤظف مربوط قيد نمايد.

## جريمه

**مادۀ هشتم:**

(۱) هرگاه واسطۀ نقليۀ بار بری بلند توناژ بيشتر از نورم های مندرج ضميمۀ شماره (۲) اين مقرره بار شده باشد رانندۀ واسطۀ مذکور علاوه برتخليۀ مقدار باراضافی، مطابق ضميمۀ

مقررې د (۱) ګڼې ضميمې مطابق داضافي بار د جريمې پر ورکړې مکلف دی.

(۲) د سرغړونې د تکرار په صورت کې، د لوړ توناژ بار وړونکې نقليه واسطې د ترانسپورتي سير (ګرځېدو) کتابچه په سور رنګ سره په نښه کېږي.

(۳)دترانسپورت وزارت مکلــف دی، د سرغړونې د تکرار په صورت کې د دې مادې په (۲) فقــره کــې درج شــوې دګرځېدوکتابچه د (۳) مياشتو مــودې لپاره د تعليق په حالت کې راولي.

ثبت

نهمه ماده:

مؤظف کارکوونکی مکلف دی، د حــق الوزن پارچه چې ددې مقررې د شپږمې مادې په (۳) فقره کــې د درج شــوو مشخصاتو لرونکې وي او د جريمې ټکټ چې دحق الوزن دپــارچې پرمشخصــاتو سربېره، د اضافي بار د جريمې مبلغ هم په هغــه کــې درج وي، پــه اړونــدو دفترونوکې ثبت کړي.

شماره(۱)این مقرره مکلف به پرداخت جریمه بار اضافی می باشد.

(۲) درصورت تکرار تخلف، کتابچــۀ سیر ترانسپورتی واسطۀ نقلیه بــاربری بلند توناژ بــه رنــگ ســرخ نشــانی می گردد.

(۳) وزارت ترانسپورت مکلف است، درصــورت تکــرار تخلــف کتابچــۀ سیرمندرج فقرۀ (۲) این ماده را بــرای مدت (۳) ماه در حالت تعلیــق قــرار دهد.

ثبت

مادۀ نهم:

کارکن مؤظف مکلف است، پارچۀ حق الوزن را که حاوی مشخصات منــدرج فقرۀ (۳) مــادۀ ششــم ایــن مقــرره بوده و تکت جریمــه را کــه عــلاوه برمشخصــات پارچــۀ حــق الــوزن، مبلغ جریمۀ بار اضافی نیــز در آن درج می باشــد، در دفــاتر مربــوط ثبــت نماید.

## د ترلاسه شوو وجوهو راټولول

**لسمه ماده:**

(۱) پدې مقرره کې درج شوی د حق الوزن دمبالغو او نغدي جریمې د تحصیل مؤظف کارکوونکی مکلف دی، راټول شوي مبالغ د(۱۰) ورځو په ترڅ کې د دولت دوارداتو په حساب کې بانک ته تحویل کړي، آویز یې فواید عامې وزارت ته واستوي، پرته لدې د نومړو مبالغو پرتحویلي سربېره، د هرې ورځې ځنډ په وړاندې د هغو د لس سلنې معادل جریمې پرورکړې مکلف دی.

(۲) دمالیې وزارت مکلف دی، پدې مقرره کې درج ترلاسه شوي وجوه، دحق العبوردمحصول دقانون دشپږمې مادې په (۲) فقره کې د درج شوو موخو دپلي کېدولپاره د فواید عامې وزارت په واک کې ورکړي.

## په لویو لارو کې د لوړ تونـاژ بار وړونکو نقلیه وسایطو کنترول

**یوولسمه ماده:**

(۱) د فواید عامې وزارت کولای شي، د

## جمع آوری وجوه حاصله

**مادۀ دهم :**

(۱) کارکن مؤظف تحصیل مبالغ حق الوزن و جریمۀ نقدی مندرج این مقرره مکلف است، مبالغ جمع آوری شده را در خلال (۱۰) روز به حساب واردات دولت تحویل بانک نموده ،آویز آن را به وزارت فواید عامه ارسال نماید ،در غیر آن علاوه بر تحویلی مبالغ مذکور،در برابر هرروز تأخیرمکلف به پرداخت جریمه معادل ده فیصد آن می باشد.

(۲) وزارت مالیه مکلف است، وجوه حاصلۀ مندرج این مقرره را جهت تحقق اهداف مندرج فقرۀ (۲) مادۀ ششم قانون محصول حق العبور به اختیار وزارت فواید عامه قرار دهد.

## کنترول وسایط نقلیۀ باربری بلندتوناژ در مسیر شاهراه ها

**مادۀ یازدهم:**

(۱)وزارت فواید عامه می تواند، توسط

ګرځنده ګروپونو په واسطه، لوړ توناژ بار وړونکي نقليه وسايط په لويو لارو کـې کنترول کړي او د هغو د حق الوزن پارچه او د جريمې ټکټ ملاحظه کړي.

(۲)که چېرې ثابته شي چې چلوونکی په نقليه واسطه کې اضافي بـار لېـږدوي، دهغې پر تشولو (تخليې) ســربېره، ددې مقررې په (۱) ګڼه ضميمه کـې ددرج شوې جريمې پردوه برابره ورکړې مکلف دی.

(۳)که چېرې ددې مادې په(۱) فقره کې درج شوې دواسطې چلـوونکی، دحـق الوزن پارچه يا د جريمې ټکټ نـه وي اخيستی، له احوالو سره سم، ددې مقررې په (۱) ګڼه ضميمه کـې د درج شـوې جريمـــې پـــر دوه برابـــره ورکړې مکلف دی او په هغهٔ صورت کې چې دپارچې نـه اخيسـتل د مؤظـف کارکوونکي په موافقه او سازش تر سره شوي وي،مؤظف کارکوونکی د قـانون دحکمونومطابق ترعدلي تعقيب لانـدې نيول کېږي.

(۴) که چېرې مؤظف کارکوونکی د حق

ګروپ های سيار، وسايط نقليهٔ بار بری بلند توناژ را در مسير شاهراه ها کنترول نموده و پارچهٔ حق الوزن و تکت جريمهٔ آن را ملاحظه نمايد .

(۲)هرگـــاه ثابـــت گـــردد کـــه راننده بار اضافی را در واســطهٔ نقليــه حمل می نمايد، علاوه بــر تخليــهٔ آن، مکلف به پرداخت دو برابــر جريمــهٔ مندرج ضميمهٔ شماره (۱) اين مقرره می باشد.

(۳) هرگاه راننــدهٔ واســطهٔ منــدرج فقرهٔ (۱) اين ماده، پارچهٔ حق الوزن يا تکــت جريمـــه را اخـــذ ننمـــوده باشد، حسب احوال مکلف به پرداخت دو برابر جريمهٔ مندرج ضميمهٔ شـماره (۱) ايـــن مقـــرره مـــی باشد و در صورتی کـه عـدم اخـذ پارچه به موافقهٔ و سازش کارکن مؤظف بــه عمـــل آمـــده باشـــد، کـــارکن مؤظـــف طبـــق احکـــام قانون تحـت تعقيـب عـدلی قـرار می گيرد.

(۴) هرگاه کارکن مؤظف پارچهٔ حـــق

**الوزن پارچه يا د جريمـــې ټکــټ ددې مقررې د ټاکلو نورمونـــو او د منضـــمه جدول له په پام کې نيولو پرتـــه صـــادر کړي، تر تأديب لاندې نيــول کېـــږي، خوداچې ثابته کړي چې د لوړ توناژ بار وړونکې نقليه واسطې چلوونکی، د اضافي بار مقدار د وزن کولو له ټاکلي ځـــای څخه له تېرېدو وروسته، بار اخيستنه کړې ده.**

**(۵) که چېرې ګرځنده ګروپ، لوړ توناژ باروړونکې نقليه واسطه بيا وزن کړي، د حق الوزن د پارچې د لرلو په صـــورت کې،ددې مقررې د شپږمې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي مبلغ له ورکـــړې څخه معاف وي.**

**الوزن يا تکت جريمه را بدون رعايـــت نورم های معينـــه و جـــدول منضـــمهٔ اين مقرره صادر نمايد، مورد تأديـــب قرار می گيرد، مگـــر اينکـــه ثابـــت نمايـــد کـــه راننـــدهٔ واســـطهٔ نقليهٔ بار بری بلند توناژ مقدار بار اضافی را بعـــــد از عبـــــور از محـــــل معينـــهٔ وزن، بـــار گيـــری نمـــوده است.**

**(۵)هرگاه گروپ سيار،واسطهٔ نقليهٔ بار بری بلند توناژ را مجدداً وزن نمايـــد، در صورت داشتن پارچهٔ حق الوزن، از پرداخـــت مبلـــغ منـــدرج فقـــرهٔ (۲) مـــادهٔ ششـــم ايـــن مقـــرره معـــاف می باشد.**

## درېیم فصل

## وروستني حکمونه

**سرغړ شوې محموله**

**دوولسمه ماده:**

که چېرې د ترانزیت په پروسه کې شامله لوړ توناژ بار وړونکې نقلیه واسطه، دمجاز نورم خلاف بار وهلی وي، د محمـــولې سرغړ یې د اضافي بار د تشولو په غرض نه خلاصېږي، هغه ته د تېرېدو اجازه نـــه ورکول کېږي، بېرته مستردېږي.

**د ادارو همکاري**

**دیارلسمه ماده:**

(۱) وزارتونه اواړوندې دولتـــي ادارې مکلفې دي، ددې مقررې د حکمونو د ښه تطبیقولو لپاره د فواید عامې لـــه وزارت سره لازمې همکارۍ وکړي.

(۲) د کورنیو چارو وزارت مکلف دی، دلوړ توناژ تلو دنصبولو دځایونو د امنیت د تأمینولو پـــه منظـــور، لازم تدبیرونـــه ونیسي.

## فصل سوم

## احکام نهائی

**محمولهٔ سرغړ شده**

**مادهٔ دوازدهم:**

هرگاه واسطهٔ نقلیهٔ باربری بلند تونـــاژ شامل پروسه ترانزیت،خلاف نورم مجاز بار زده شده باشد، سرغړ محمولـــه آن غرض تخلیهٔ بار اضافی باز نگردیـــده، اجازه عبور به وی داده نشده دو بـــاره مسترد می گردد.

**همکاری ادارات**

**مادهٔ سیزدهم:**

(۱) وزارت ها وادارات دولتی ذیـــربط مکلف اند، جهت تطبیق بهتر احکام این مقرره با وزارت فواید عامه همکـــاری لازم نمایند.

(۲) وزارت امور داخله مکلف اســـت، به منظور تأمین امنیت محلات نصـــب ترازوهای بلند توناژ تدابیر لازم اتخـــاذ نماید.

**د پېژندګلوۍ کارت او یونیفورم**

**څوارلسمه ماده:**

د تلو او د ګرځنده ګروپونو د برخې کارکوونکی د ځانګړي پېژندګلوۍ کارت او یونیفورم لرونکی دی چې د فواید عامې وزارت لخوا، برابر او وېشل کېږي.

**د لایحو او کړنلارو وضع کول**

**پنځلسمه ماده:**

دفواید عامې وزارت دا‌ړوندو ادارو په همکارۍ کولای شي ددې مقررې د حکمونو دښه تطبیقولو په منظور،لایحې او کړنلارې چې مغایرې نه وي،وضع کړي.

**انفاذ**

**شپاړسمه ماده:**

دغه مقرره په رسمي جریده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

**کارت هویت و یونیفورم**

**مادۀ چهاردهم:**

کارکن بخش ترازوها و گروپ های سیار دارای کارت هویت و یونیفورم مخصوص می باشند که از طرف وزارت فواید عامه، تهیه و توزیع می گردد.

**وضع لوایح و طرزالعمل ها**

**مادۀ پانزدهم:**

وزارت فواید عامه به همکاری ادارات ذیربط می تواند به منظور تطبیق بهتر احکام این مقرره لوایح و طرزالعمل های که مغایر آن نباشد، وضع نماید.

**انفاذ**

**مادۀ شانزدهم:**

این مقرره ازتاریخ نشر در جریدۀ رسمی نافذ می گردد.

## (۱) ګڼه ضميمه

## پر افغانيو باندې د لوړ توناژ بار وړونکو نقليه وسايطو د اضافي بار د جريمې

## د اندازې جدول

| ګڼه | د اضافي بار اندازه | د يو ټن جريمه | د يوه کيلو جريمه |
|---|---|---|---|
| ۱ | يو ټن اضافي بار | ۳۰۰۰ | ۳ افغانۍ |
| ۲ | دوه ټنه اضافي بار | ۷۰۰۰ | ۳.۵ افغانۍ |
| ۳ | درې ټنه اضافي بار | ۱۲۰۰۰ | ۴ افغانۍ |
| ۴ | څلور ټنه اضافي بار | ۱۸۰۰۰ | ۴.۵ افغانۍ |
| ۵ | پنځه ټنه اضافي بار | ۲۵۰۰۰ | ۵ افغانۍ |
| ۶ | شپږ ټنه اضافي بار | ۴۸۰۰۰ | ۸ افغانۍ |

که چېرې د لوړ توناژ بار وړونکې نقليه واسطې اضافي بار له شپږو ټنو څخه زيات وي، پدې صورت کې د اضافي بار د هر کيلو ګرام په وړاندې (۵۰) افغانۍ جريمه اخيستل کيږي.

## ضمیمهٔ شماره (۱)

## جدول اندازهٔ پول جریمهٔ بار اضافه وسایط نقلیهٔ باربری بلند توناژ به افغانی

| شماره | مقدار بار اضافه | جریمه فی تن | جریمه فی کیلو |
|---|---|---|---|
| ۱ | یک تن بار اضافه | ۳۰۰۰ | ۳ افغانی |
| ۲ | دو تن بار اضافه | ۷۰۰۰ | ۳.۵ افغانی |
| ۳ | سه تن بار اضافه | ۱۲۰۰۰ | ۴ افغانی |
| ۴ | چهار تن بار اضافه | ۱۸۰۰۰ | ۴.۵ افغانی |
| ۵ | پنج تن بار اضافه | ۲۵۰۰۰ | ۵ افغانی |
| ۶ | شش تن بار اضافه | ۴۸۰۰۰ | ۸ افغانی |

**هرگاه بار اضافه واسطهٔ نقلیهٔ باربری بلند توناژ بیشتر از شش تن باشد، در این صورت در برابر هر کیلوگرام باراضافی مبلغ (۵۰) افغانی جریمه اخذ می گردد.**

ضمیمهٔ شماره (۲) :

| TRURC TYPE | | د لوړ توناژ بار وړونکو نقلیه وسایطو ډولونه | په ټن سره د نقلیه وسایطو د بار مجموعي | ګڼه |
|---|---|---|---|---|
|  | Truck with single front axle and single rear axle. | د مخکیني اکسل او یو واحد اکسل لرونکې نقلیه واسطه. | ۱۷,۵ | ۱ |
|  | Truck with single front axle and single rear axle. | د مخکیني اکسل او یو واحد اکسل لرونکې نقلیه واسطه. | ۱۷,۵ | ۲ |
|  | Truck with single front axle and ۸ wheels dual rear closed axles (tandem axles) | د اتو حلقو ټایرونو لرونکې مخکیني اکسل او له یو بل سره نږدې جوړه یې اکسلونو لرونکې نقلیه واسطه. | ۲۷,۵ | ۳ |
|  | Truck with single front axle and two single axles with ٤ wheels.. | د څلورو حلقو ټایرونو لرونکې مخکیني اکسل او د واحد دوو اکسلونو لرونکې نقلیه واسطه . | ۲۹,۵ | ۴ |
|  | Truck with single front axle, single axle with four wheels and dual rear closed axles (tandem axles) with ۸ wheels. | دڅلورو حلقو ټایرونو لرونکې مخکیني اکسل او د واحد یو اکسل او داتو حلقو ټایرونو لرونکې له یو بل سره نږدې جوړه یې اکسلونو نقلیه واسطه. | ۳۹,۵ | ۵ |
|  | Truck with single front axle, ۸ wheels dual rear closed axles (tandem axles) and ٤ wheels single rear axles. | د اتو حلقو ټایرونو لرونکې مخکیني اکسل او له یو بل سره نږدې جوړه یې اکسلونو او د څلورو حلقو ټایرونو لرونکې واحد اکسل نقلیه واسطه. | ۳۹,۵ | ٦ |
|  | Truck with single front axle and ۳ single axles each with ٤ wheels. | د څلورو حلقو ټایرونو لرونکې مخکیني اکسل او د واحد دریو اکسلونو لرونکې نقلیه واسطه. | ۴۱,۵ | ۷ |
|  | Truck with single front axle, single axle with four wheels and three rear closed axles (tridem axles) with ۱۲ wheels. | د څلورو حلقو ټایرونو لرونکې مخکیني اکسل، یو واحد اکسل او د دوولسو حلقو ټایرونو لرونکې له یو بل سره نږدې دریو اکسلونو نقلیه واسطه. | ۴۸,۵ | ۸ |
|  | Truck with single front axle and dual closed axles (tandem axles) each with ۸ wheels. | د اتو حلقو ټایرونو لرونکې مخکیني اکسل او له یو بل سره نږدې دوه جوړو اکسلونو لرونکې نقلیه واسطه. | ۴۹,۵ | ۹ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | ۵۱,۵ | د څلورو حلقو ټایرونو لرونکې مخکیني اکسل او د واحد دوو اکسلونو لرونکې او د اتو حلقو ټایرونو لرونکې له یو بل سره نږدې جوړه یي یو اکسل نقلیه واسطه. | Truck with single front axle, ٤ wheels two single axle and one dual rear closed axles (tandem axle) with ٨ wheels. |  |
| ۱۱ | ۵۱,۵ | د اتو حلقو ټایرونو لرونکې مخکیني اکسل او له یو بل سره نږدې جوړه یي یو اکسل او د څلورو حلقو ټایرونو لرونکې واحد دوو اکسلونو نقلیه واسطه. | Truck with single front axle, ٨ wheels dual closed axles (tandem axle) nd two single axles with four wheels. |  |
| ۱۲ | ۵۸,۵ | د اتو حلقو ټایرونو لرونکې مخکیني اکسل او له یو بل سره نږدې جوړه یي یو اکسل او د دوولسو حلقو ټایرونو لرونکې له یو بل سره نږدې دریو اکسلونو نقلیه واسطه. | Truck with single front axle, dual closed axles (tandem axle) with ٨ wheels and three rear closed axles (tridem axles) with ١٢ wheels. |  |
| ۱۳ | ۶۱,۵ | د اتو حلقو ټایرونو لرونکې مخکیني اکسل او له یو بل سره نږدې جوړه یي یو اکسل، د څلورو حلقو ټایرونو لرونکې واحد یو اکسل او د اتو حلقو ټایرونو لرونکې له یو بل سره نږدې جوړه یي یو اکسل نقلیه واسطه. | Truck with single fromt axle, daul closed axles (tandem axle) with ٨ wheels, a single axle with ٤ wheels and two closed rear axles (tandem axle) with ٨ wheels. |  |

ضمیمهٔ شماره (۲) :

| شماره | وزن مجموعی باروسایط نقلیه به تن | انواع وسایط نقلیه باربری بلند تُوناژ | TRUCK TYPE | |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۱۷,۵ | واسطهٔ نقلیهٔ دارای اکسل پیشروی ویک اکسل واحد. | Truck with single front axle and single rear axle. |  |
| ۲ | ۱۷,۵ | واسطهٔ نقلیهٔ دارای اکسل پیشروی ویک اکسل واحد. | Truck with single front axle and single rear axle. |  |
| ۳ | ۲۷,۵ | واسطهٔ نقلیهٔ دارای اکسل پیشروی واکسل جوره ئی باهم نزدیک دارای هشت حلقه تایر. | Truck with single front axle and ۸ wheels dual rear closed axles (tandem axles) |  |
| ۴ | ۲۹,۵ | واسطهٔ نقلیهٔ دارای اکسل پیشروی ودواکسل واحد دارای چهار حلقه تایر. | Truck with single front axle and two single axles with ٤ wheels.. |  |
| ۵ | ۳۹,۵ | واسطهٔ نقلیهٔ دارای اکسل پیشروی و یک اکسل واحد دارای چهار حلقه تایر و اکسل جوره ئی با هم نزدیک دارای هشت حلقه تایر. | Truck with single front axle, single axle with four wheels and dual rear closed axles (tandem axles) with ۸ wheels. |  |
| ۶ | ۳۹,۵ | واسطهٔ نقلیهٔ دارای اکسل پیشروی واکسل جوره با هم نزدیک دارای هشت حلقه تایر و اکسل و احد دارای چهار حلقه تایر . | Truck with single front axle, ۸ wheels dual rear closed axles (tandem axles) and ٤ wheels single rear axles. |  |
| ۷ | ۴۱,۵ | واسطهٔ نقلیهٔ دارای اکسل پیشروی و سه اکسل واحد دارای چهار حلقه تایر. | Truck with single front axle and ۳ single axles each with ٤ wheels. |  |
| ۸ | ۴۸,۵ | واسطهٔ نقلیهٔ دارای اکسل پیشروی ، یک اکسل واحد دارای چهار حلقه تایر و سه اکسل با هم نزدیک دارای دوازده حلقه تایر. | Truck with single front axle, single axle with four wheels and three rear closed axles (tridem axles) with ۱۲ wheels. |  |
| ۹ | ۴۹,۵ | واسطهٔ نقلیهٔ دارای اکسل پیشروی و دو اکسل جوره با هم نزدیک دارای هشت حلقه تایر . | Truck with single front axle and dual closed axles (tandem axles) each with ۸ wheels. |  |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | ۵۱،۵ | واسطهٔ نقلیهٔ دارای اکسل پیشروی و دواکسل واحد دارای چهار حلقه تایر و یک اکسل جوره ئی با هم نزدیک دارای هشت حلقه تایر. | Truck with single front axle, ٤ wheels two single axle and one dual rear closed axles (tandem axle) with ٨ wheels. |  |
| ۱۱ | ۵۱،۵ | واسطهٔ نقلیهٔ دارای اکسل پیشروی و یک اکسل جوره ئی باهم نزدیک دارای هشت حلقه تایر و دو اکسل واحد دارای چهار حلقه تایر. | Truck with single front axle, ٨ wheels dual closed axles (tandem axle) nd two single axles with four wheels. |  |
| ۱۲ | ۵۸،۵ | واسطهٔ نقلیهٔ دارای اکسل پیشروی و اکسل جوره ئی باهم نزدیک دارای هشت حلقه تایر و سه اکسل باهم نزدیک دارای دوازده حلقه تایر. | Truck with single front axle, dual closed axles (tandem axle) with ٨ wheels and three rear closed axles (tridem axles) with ١٢ wheels. |  |
| ۱۳ | ۶۱،۵ | واسطهٔ نقلیهٔ دارای اکسل پیشروی ویک اکسل جوره ئی باهم نزدیک دارای هشت حلقه تایر ، یک اکسل واحد دارای چهار حلقه تایر و یک اکسل جوره ئی باهم نزدیک دارای هشت حلقه تایر. | Truck with single fromt axle, daul closed axles (tandem axle) with ٨ wheels, a single axle with ٤ wheels and two closed rear axles (tandem axle) with ٨ wheels. |  |

**د ګرځېدو او حرکت د مقررې د اتلسمې مادې د (٦) فقرې او د منضمه جدول د(۷۵) شمېرې د لغوې په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوريت د وزيرانو شورې مصوبه**

ګڼه: (۵)

نېټه: ۱۳۹۳/۲/۱

**لومړۍ ماده:**

د ۱۳٦۰ کال (۴۸۴) ګڼه رسمي جريده کې خپره شوې د ګرځېدو او حرکت د مقررې د اتلسمې مادې د (٦)فقرې او دمنضمه جدول د(۷۵) شمېرې لغو چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د وزيرانو شورې د ۱۳۹۳/۲/۱ نېټې په غونډه کې تصويب شوې ده، منظوروم.

**دوه يمه ماده:**

دغه مصوبه د نومورې مقررې د اتلسمې مادې د(٦)فقرې او دمنضمه جدول د (۷۵) شمېرې د لغوې له حکم سره يو ځای په

**مصوبۀ شورای وزیران جمهوری اسلامی افغانستان در مورد الغای فقرۀ (٦) مادۀ هجدهم و شماره (۷۵) جدول منضمۀ مقررۀ سیر و حرکت**

شماره: (۵)

تاریخ: ۱۳۹۳/۲/۱

**مادۀ اول:**

الغای فقرۀ (٦) مادۀ هجدهم و شماره (۷۵) جدول منضمۀ مقررۀ سیر و حرکت منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۴۸۴) سال ۱۳٦۰ را که در جلسۀ مؤرخ ۱۳۹۳/۲/۱ شورای وزیران جمهوری اسلامی افغانستان تصویب گردیده است، منظور می دارم.

**مادۀ دوم :**

این مصوبه همراه با الغای حکم فقرۀ (٦) مادۀ هجدهم و شماره (۷۵) جدول منضمۀ مقررۀ مذکور از تاریخ نشر،

**رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه، نافذېږي.**

**حامد کرزی**

**دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس**

**درجريدۀ رسمی نافذ می گردد.**

**حامد کرزی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

## د سير او حركت د مقررې د اتلسمې مادې د (٦) فقرې او د منضمه جدول د (۷۵) شمېرې الغاء

**لومړۍ ماده:**

د ۱۳٦۰کال په (۴۸۴) گڼــه رســمي جريده کې خپره شوې د سير او حرکت د مقررې د اتلسمې مادې (٦) فقــره او د منضمه جدول (۷۵) شمېره دې، لغو شي:

**۱- اتلسمه ماده:**

(٦) په هغهٔ صورت کې چــې د نقليــه واسطې دبــار انــدازه، د(۲،۵) متــرو سور(۴)متروارتفاع،(۲۴)مترواوږدوالي، له (۳۸) ټنومجموعي مجاز وزن څخــه دواحد اکسل وزن له (۸) ټنو او جوړه يي اکسل وزن له (۱٦) ټنو څخه زيــاتوالی وکړي، د هغه د حمل او نقــل لپــاره د ترافيکو ليکلې اجازه لازمه ده.

## الغای فقرهٔ (٦) مادهٔ هجدهم و شماره (۷۵) جدول منضمهٔ مقررهٔ سير وحركت

**مادهٔ اول:**

فقرهٔ (٦) مادهٔ هجدهم و شمارهٔ (۷۵) جدول منضمهٔ مقررهٔ ســير وحرکــت منتشرهٔ جريدهٔ رسمی شــماره (۴۸۴) سال۱۳٦۰ لغوگردد:

**۱- مادهٔ هجدهم :**

(٦) در صورتی که اندازهٔ بار واســطهٔ نقليه از عرض (۲,۵) متر ارتفــاع (۴) متر طول از (۲۴) متر وزن مجمــوعی مجاز از (۳۸) تن وزن اکسل واحــد (۸) تن واکسل جوره ئی از ( ۱٦) تن تجاوز نمايد بــرای حمــل ونقــل آن اجــازهٔ کتبــی ادارهٔ ترافيــک لازم می باشد.

۲- (۷۵) شمېره:

| شمېره | د سرغړونې ډول | په افغانۍ باندې د نغدي مواخذې اندازه | | کتنې |
|---|---|---|---|---|
| | | په عدد | په رقم | |
| ۷۵ | د نقلیه واسطې له مجاز ټول وزن څخه زیات بار لېږدول | ۱ | یو | د هر کیلو بار په مقابل کې یوه افغانۍ مواخذه کېږي |

دوهمه ماده :

دغه الغاء په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

۲- شمارهٔ (۷۵) :

| شماره | نوع تخلف | اندازه مواخذهٔ نقدی به افغانی | | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|
| | | به عدد | به رقم | |
| ۷۵ | حمل بار بیش از وزن مجموعی مجاز واسطه نقلیه | ۱ | یک | در مقابل هر کیلو گرام بار یک افغانی مواخذه میگردد. |

ماده دوم :

این الغاء از تاریخ نشر در جریدهٔ رسمی نافذ می گردد.

**دڅمکنيو نقليه وسايطو د ګرځېدو د جواز (جواز سير) د مقررې داووه دېرشمې او اته دېرشمې مادو دتعديل په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوريت د وزيرانو شورې مصوبه**

ګڼه: (۵)

نېټه: ۱۳۹۳/۲/۱

لومړۍ ماده:

د۱۳۸٦کال په(۹۲۷) ګڼه رسمي جريده کې خپره شوې د څمکنيو نقليه وسايطو د ګرځېدو دجواز دمقررې داووه دېرشمې اواته دېرشمې مادو تعديل چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د وزيرانو شورې د ۱۳۹۳/۲/۱ نېټې په غونډه کې تصويب شوې ده، منظوروم.

دوه يمه ماده:

دغه مصوبه له نومورې تعديل سره يو ځای په رسمي جريده کې د خپرېدو

**مصوبۀ شورای وزیران جمهوری اسلامی افغانستان در مورد تعدیل مواد سی و هفتم و سی و هشتم مقررۀ جواز سیر وسایط نقلیۀ زمینی**

شماره: (۵)

تاریخ: ۱۳۹۳/۲/۱

مادۀ اول:

تعدیل مواد سی وهفتم و سی هشتم مقررۀ جواز سیر وسایط نقلیۀ زمینی منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۹۲۷) سال ۱۳۸٦ را که در جلسۀ مؤرخ ۱۳۹۳/۲/۱ شورای وزیران جمهوری اسلامی افغانستان تصویب گردیده است، منظور می دارم.

مادۀ دوم :

این مصوبه همراه با تعدیل مذکور از تاریخ نشر، درجریدۀ رسمی نافذ می

**له نېټې څخه نافذېږي.** **گردد.**

**حامد کرزی** **حامد کرزی**

**دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس** **رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

**د ځمکنيو نقليه وسايطو د ګرځېدو د جواز (جواز سير) د مقررې د اووه دېرشمې او اته دېرشمې مادو تعديل**

**لومړۍ ماده:**

د ۱۳۸٦کال په (۹۲۷) ګڼه رسمي جريده کې خپره شوې د ځمکنيونقليه وسايطو دګرځېدو دجواز(جوازسير) د مقررې اووه دېرشمه او اته دېرشمه ماده دې، په لاندې ډول تعديل شي:

۱- اووه دېرشمه ماده:

په مختلفو نقليه وسايطو کې مجاز ټول وزن، له لاندې ټاکلو حدودو څخه زيات نه وي:

۱- د دوو اکسلونو پر لرونکو بار وړونکو نقليه وسايطو کې، تر (۱۷،۵) ټنو پورې.

۲- له ترېلر سره ترلو (لوبای) مخصوصو نقليه وسايطو کې، تر (٦۱،۵) ټنو پورې.

**تعديل مواد سی وهفتم وسی وهشتم مقررۀ جواز سير وسايط نقليۀ زمينی**

**مادۀ اول:**

مواد سی وهفتم وسی وهشتم مقررۀ جواز سير وسايط نقليۀ زمينی منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۹۲۷) سال ۱۳۸٦ذيلاً تعديل گردد:

۱- مادۀ سی و هفتم:

وزن مجموعی مجاز در وسايط نقليۀ مختلفه از حدود معينۀ ذيل بيشتر بوده نمی تواند:

۱- در وسايط نقليۀ باربری دارای دو اکسل الی (۱۷,۵) تن.

۲- در وسايط نقليۀ مخصوص بسته با تريلر(لوبای) الی (٦۱,۵) تن.

۲- اته دېرشمه ماده:

په نقليه وسايطو کې د اکسل دپاسه مجاز وزن، له لاندې ټاکلو حدودو څخه زيات نه وي:

۱- د دوو حلقو ټاېرونو لرونکی مخکينی اکسل، له (۵،۵) ټنو سره مساوي.

۲- د دوو حلقو ټاېرونو لرونکی تک څرخ، له (۹) ټنو سره مساوي.

۳- د څلورو حلقو ټاېرونو لرونکی واحد (سنګل) اکسل، له (۱۲) ټنو سره مساوي.

۴- د شپږو حلقو ټاېرونو لرونکی له يو بل سره نږدې جوړه يي اکسل، له (۱۷،۵) ټنو سره مساوي.

۵- د اتو حلقو ټاېرونو لرونکی له يو بل سره نږدې جوړه يي اکسل، له (۲۲) ټنو سره مساوي.

۶- د دوولسو حلقو ټاېرونو لرونکی له يو بل سره نږدې درې اکسله، له

۲- مادهٔ سی وهشتم:

وزن مجاز بالای اکسل در وسایط نقلیه از حدود معینهٔ ذیل بیشتر بوده نمی تواند:

۱- اکسل پیشروی دارای دو حلقه تایر مساوی به (۵,۵) تن.

۲- تک چرخ دارای دو حلقه تایر مساوی به (۹) تن.

۳- اکسل واحد (سنگل) دارای چهار حلقه تایر مساوی به (۱۲) تن.

۴- اکسل جوره ئی باهم نزدیک دارای شش حلقه تایرمساوی به (۱۷,۵) تن.

۵- اکسل جوره ئی با هم نزدیک دارای هشت حلقه تایرمساوی به (۲۲) تن.

۶- سه اکسل باهم نزدیک دارای دوازده حلقه تایرمساوی به (۳۱)

(۳۱) ټنو سره مساوي.

دوه يمه ماده:

دغه تعديل په رسمي جريده کـــې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

تن.

مادهٔ دوم:

این تعدیل از تاریخ نشر در جریدهٔ رسمی نافذ می گردد.

# اشتراک سالانه:

در مرکـــــز و ولایـــــات : (۹۰۰) افغـــــانی

بـــرای مـــامورین دولـــت: بـــا ۲۵ فیصـــد تخفیـــف

برای متعلمین و محصلین با ارائـــه تصـــدیق، نصـــف قیمـــت

برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد

خـــارج از کشـــور: (۲۰۰) دالـــر امریکـــائی

ISLAMIC REPUBLIC
OF
AFGHANISTAN
MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE
## Extraordinary Issue

- Regulation on Control fo High Tonnage Loading Vehicles
- Revocation of Article ١٨ , Paragraph ٦ and Table No.٧٥ Attached to The Regulation on Road Traffic
- Amendment of Articles ٣٧ and ٣٨ of Regulation on Vehicles Registration

Date: ٩th *JUNE.* ٢٠١٤
ISSUE NO :(١١٣٧)